دوکتور م، عثمان تره کی ۲۰۱۸/۰۹/۲۸

# د ملکی تلفاتو زیاتوالې پیل شوې غیر رسمي د سولې مذاکراتو سره تړاو لري !

یوناما (په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دفتر) چه باید د افغانستان په جګړه کې سولې سره په تړاو محوري رول ولوبوي، غالباً د هغو جنایتونو چه د جګړې په ساحه کې ترسره کیږي چوپه خوله پاتې کیږي. په ځینو مواردو کې زیاتره تشریفاتي دریځ غوره کوي. یعني کله ناکله د دیپلوماتیکو الزاماتو تر اغیز لاندې د مړو شمیر اعلانوي. خو یوناما په نوې اعلامیه کې په بیسارې توګه په تونده لهجه د جګړې زیاتوالي او شدت داسې تر نیوکې لاندې نیولې:

'' د تیر کال ( ۲۰۱۷) په پرتله په افغانستان کې د ملکي وګړو تلفات ۵۲ سلنه زیات شوي دي.

د ۲۰۱۷ زیږدیز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۱۴۹ تنه ملکي وګړي په هوایي بریدونو کې وژل شوي. ۲۰۴ نور ټپیان وو. د تلفاتو شمیر د ۲۰۱۸ کال په نسبت ۵۲ سلنه زیاته شوې ده.

د دغو ملکي تلفاتو ۵۲ سلنه مسؤولیت د افغان ځواکونو، ۴۵ سلنه د بهرنیو ځواکونو او درې فیصده یې د دولت پلوه ځواکونو له په غاړه دی''.

د ګډ حکومت د دفاع وزیر ورمه ورځ (د سپتامبر ۲۳) مشرانو جرګې ته په خپلو خبرو کې ویلي و، چې یوازې تېره میاشت د طالبانو په بریدونو او چاودنو کې ۵۱۳ عسکر وژل شوي او ۷۱۸ ټپیان وو. خو ګډ حکومت او امریکا د خپلو عسکرو د مرګ ژوبلې په اړه رسنیو ته سم معلومات نه ورکوي. د عسکرو مرګ ژوبله تر هغه څو چنده زیاته ده چه حکومت یې رسنیو سره شریکوي ''.

ولې سږ کال جګړه شدت موندلې او هغې سره جوخت ملکي تلفات زیات شوي؟ پوښتنه دا ده چه د جګړې زیاتوالي مختلف بهرني او کورني لاملونه لرلي شي :

### ۱ – بهرني لاملونه :

* د امریکا – پاکستان او امریکا - ایران د اړیکو خرابوالې.

* د سوریې او عراق د شاتګ نه وروسته د داعش پام افغانستان خوأ ته.

### ۲ - کورني لاملونه :

پدغه برخه کې  تخنیکي او سیاسي ملاحظات مطرح کولي شو.

## تخنیکي پدې مانا چه :

د افغانستان په جګړه کې دولتونه سره نه جنګیږي. دولتونه د خپلي پیاوړي جنګي ماشین (اتوماتیکو بی پیلوته الوتکو او بی-۵۲) د  مقاومت ملیشیې سره مخ دي چه عادي وسلي لري.

یوناما کله چه د بمباریو په ترڅ کې د ملکي خلکو د تلفاتو د زیاتوالي نه خبرې کوي همدغه واقعیت ته ګوته نیسي.

په یو ویشتم  پیړي کې په ذروي ځواک باندې قبضه د دولتونو تر منځ نښته له منځه وړی ده. جګړه مار دولتونه له هغو ملیشیائي دلو سره په ټکر کې دي چه په ښارونو کې د ولس په منځ کې مورچل جوړوي. پدغه نا متعادله جګړه کې د متخاصمو اړخونو تر منځ د قواوو نسبي اندول وجود نلري. کوم چه دولت په جګړه کې د حربي تکنولوژي په حساب برلاسي لري، کولي شي بلې لورې ته زیاتره تاوان ورسوي او د ملکي تلفاتو د زیاتیدو لامل وګرځي. لویدیزوال تر اوسه پورې د خپلي جنګي ماشین جوړښت د ملیشیائي جګړې له غوښتني سره ندي سمبال کړی.

## سیاسي ملاحظات پدې مانا چه :

د امریکا نوې حکومت د یوه  واقعبینانه دریځ له مخې د وسله وال مقاومت سره غیر رسمي مذاکراتو ته کیناست. خو دلته د سولي پروسه، د دواړو جنګي دلو په منګولو کې ایسار پاتې شوه. په واقعیت کې  د جګړې اړخونه په یوه جګړه ایزه  چاپیریال، خبرو اترو ته پیل وکړل. طبعاً د مذاکراتو په پیل کې متنازع فیه موضوعات مطرح شول چه اړخونه یې نه غوښتل د بلې لورې په ګټه د خپل دریځ نه تیر شي.مذاکرات وځنډول شول. په بل عبارت  د خبرو اترو په  ځندولو کې  د متنازع فیه موضوعاتو حل،  جګړې دګر  ته حواله شول. د جګړې په میدان  متحاربو دلو د راتلونکې مذاکراتو په ترڅ کې د برلاسي لرلو په موخه تویک ته لاس واچاوه. جګړه شدت وموند او د ملکي او غیر ملکي تلفاتو کچه لوړه شوه.

بناً د جګړې شدت او د تلفاتو زیاتوالي اصلي لامل دا دي چه د خبرو اترو  په اجنداً  کې  د موضوعاتو هغه منطقي تَقَدُم او تأخُر پراونه چه تینګه سولې ورته اړتیا لري، له  پامه غورځوله شویده. د سولي مذاکرات  چه په کې د جګړې د شدت مخه نیوله کیږي د لاندې درې پړاونو نه تیریږي : اوربند، متارکه او سوله.

د جګړې په میدان کې د قواوو د معادلي په بنسټ   هر پړاو ځانته ځانګړې اجنداً لرلي شي .

## دلته باید څو ټکې ته پام واړول شي :

- خبرو اترو ته رسمیت ورببنل.
- هغه اړخه چه جګړه پیله کړې بلې لورې ته د اوربند وړاندیز ورکول.
- د جګړې زیاتوالي د مخنیوي په موخه د  مذاکراتو د پړاونو تر منځ  زماني واټن حد اقل ته رسول.
- د سولي د یوه  واقعبینانه پلان سره خبرو اترو ته ورننوتل.

خو موږ نپوهیږو چه د مذاکراتو پیل بی لدی چه د اجنداً په سر کې اوربند ځاي ولري د امریکائیانو  غلطي ده یا  د جګړې د شدت او پراختیا په موخه  یو  هدفمنده پلان ؟

پای